# ...کلي کیسې

...اوښکو ډکې وې، د ټیکري لاندې یې تور
...ایه ښکارېده، ښه شېبه یې سترگې هنداري
...ړې اوښکې له سترگو راووتلې، په غریو شوه،
...ولگېدې، باڼه یې یو بل کې وروستل، لانده

...کیسې پیل و. که لنډه کیسه، په پیل کې دا
...لوستونکی به د کیسې تر پایه ورسره بیایي.
...، د نهیلۍ علت یې څه و؟ خاوند، ورور یا
...وربانديې رالوېدلې ده؟
...، لوستونکی مجبوره دی چې د خپلو پوښتنو

...لوستونکی پوهېږي چې کیسه څه ده. په بله
...ړی وي چې لوستونکي ته دا ډول پیل په زړه

...سفزي صاحب راغلې ټولې کیسې له تلوسې
...د کیسې په پای باندې پوه نه شي او کیسه



((درزشو...مړه دوړه له خاوروپورتـه شـوه، جـمال دلومړۍ لیکـې کنـدې تـه ځان واچو...بله مرمۍ یې دسرله پاسه تېره شوه، له ښـې اوکېڼ لـوري یـې نورملگروځانونـه دکندې منځ ته وغورځول، ټولوپه بیړه خپلوټوپکونوباندې گوتې کش کړې...چمتوشول، خوټول دقومندان غږته په تمه ول.))

دا برخه مې د یوسفزي صاحب د ( برید ) له کیسې څخه راواخیسته. دا تصـویر پـه دې توگه هم لیکل کېدای شواې:

جگړه وه، مرمۍ اورېدلې، جمال د لومړۍ لیکې کندې ته ځان واچاوه.......

خو دې ډول تصویر ته د مړه تصویر نـوم ورکـولی شـو، هغـه تصـویر چـې پـه ( درز شو... ) او ( مړه دوړه له خاورو پورته شوه ) کی شته، په مړه تصویر کـې یـې درک نـه شـو مونـدلی. ( درز شـو) ( مـړه دوړه لـه خـاورو پورتـه شـوه ) ژونـدي تصـویرونه دي، لوستونکی د جنگ صحنې ته بیایي او د جنگ د صحنې له لیـدلو سره سره، د هـاوان د مرمۍ او یا هم د ماین د چاودنې غږ هـم رابانـدې اوروي. دا ډول تصـویرونه پـه ذهـن کـې ژونـدي کېـږي، سـا اخـلي او لوسـتونکی هـم خپـل ځـان پـه هماغـه صـحنه کـې احساسوي، چېرته چې د کیسې کرکټر یا کرکټرونه دي.

یوسفزی صاحب د تصـویر پـه جوړولـو کـې تکـړه دی، ژونـدي تصـویرونه جـوړوي، داسي تصویرونه چې د لوستونکي په ذهن کې حرکت پیدا کوي.

د یوسفزي صاحب د کیسو د ژبې یوه بېلگه به د ( پاچا ) د کیسـې لـه یـوې برخـې راواخلو ((ماشوم په زاړه ټیم کې مزی واچو، په خړو خاورو یـې کـش کـړ، د سـترگو رپ سره د حوېلۍ اخر ته ورسېد، له څمکې تاو پورته کېده، حوېلۍ سیوری نه درلود، په منځ کې یې یوازې یوه خېمه ولاړه وه، د هلک له خولې د موټر غږ پورته کېده...هارنډونه یې وهل، بېرته د حوېلۍ بر سرته راغی، لوځو پښو یې د خاورو رنـگ اخیسـتی و، لـه رنگـه تور مخ یې لمر ته برېښېده.))

ځېنې لیکوالان [illegible] پېښلیکو [illegible] او اصطلاحونو [illegible] گرځي [illegible] په دې فکر کې دي چې مغلق او پیچلي کلمات کیسه او یا هم کومه بله لیکنه پیاوړې کوي او پـه دې سره پخپله لیکوال پوه او د ډېرې مطالعې خاوند ښکاري، خوپوښتنه داده چې موږ کیسه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا له پاره لیکو؟ ایا هغوی په دا ډول پېچلو کلماتو پوهیږي؟ ایا د مغلقو تورو کارول هنر دی؟

نه، کیسه د لغاتو ډیکشنري نه ده او نه هم یوازې د پوهنتون محصلین یا استادان کیسې لولي. کیسه د ټولو هغو کسانو له پاره لیکل کېږي چې یو څه لوستی شي. په دې کې باسواده دهقان، د پنځم صنف زده کوونکی، د پوهنتون محصل، استاد... ټول راځي، نو د کیسې ژبه باید ساده وي.

یوسفزي صاحب همدې ټکي ته پام کړی، هغه ژبه یې را اخیستې ده چې ټولو ته د پوهاوي وړ وي، واړه او زاړه ورباندې پوه شي او هېڅوک ونه وایي چې دا ( ټکی ) نو څه مانا؟

د یوسفزي صاب نثر خوږ دی، لنډې جملې لري او لوستونکی نه ستړی کوي.

ډیالوګونه یې هم لنډ او طبیعي دي، هر څوک یې له خپلې پوهې سره سم غږولی دی، د کیسو موضوعات یې تر ډېره نوي دي او که ځینې موضوعات زاړه هم وي، نو له یوې داسې زاویې یې ورته کتلي دي چې نوې بڼه یې ورکړې ده. نوې زاویه، په خپله نوې موضوع ده.

د ((سلګۍ)) په کتاب کې راغلې ټولې لنډې کیسې ښکلې او له پیغامونو ډکې دي. که یې په هره برخه بحث وکړو، نو کتابونه پرې لیکل کېدای شي، په دې کیسو کې زموږ د خلکو ناخوالې انځور شوي، هغو ستونزو ته اشاره شوې چې همدا اوس موږ ورسره مخ یو. یوسفزي صاحب همدا ستونزي د هنر په جامه کې رانغاړلې او په ښه توګه یې انعکاس ورکړی دی.

وېې لولئ او خوند ترې واخلئ!.

د ښاغلي یوسفزي صاحب د لا بریاوو په تمه

په درنښت

نصیراحمد احمدي

۲۸-۲-۱۳۹۴



# د یوسفزي سلګۍ

د ښاغلي عزیزالدین یوسفزي د لنډو کیسو پېښې ده له خپل چاپېریال نه راټولې کړې او په هره یوه کې د ده د اوسني چاپېریال انځورونه وینو!

ده لنډې کیسې رښتیا هم لنډې لیکلي.د دغو کیسو په لوستو سړی پوهېدی شي، چې ده د کیسې په شاوخوا کې څومره نورې خبرې لوستونکو ته پرېښې او یوازې یې غټ غټ ټکي ترې رالیکلي دي.

په کیسه کې یوه پېښه په مینه او په زړه پورې ډول بیانول د ټولې کیسې اصلي منځپانګه په ډاګه کوي. پېښه د موضوع په انتخاب پورې اړه لري او موضوع د ذهن د منلو خبره وي؛ډېر خلک هره ورځ داسې پېښې ګوري، چې کیسه وي، خو لیکلې کیسه بیا د هر ذهن کار نه وي، ښاغلي یوسفزي ته خدای خلاق ذهن ورکړی، ځکه خو یې له خپلو لیدنو کتنو کیسې جوړې کړي او د خپل وخت د چاپېریال یو ډول ګزارش یې په ادبي ژبه وړاندې کړی دی.

ما دده زیاتره کیسې ولوستې. لنډې دي، د کیسې پیل یې خوندور دی، کرکټرونه یې راڼه دي او په ابهام کې نه دي. ان له پیله ورسره تلوسه ملګرې وي.خبرې اترې په کې ډېرې اضافي نه دي او له سیمه ییز طرز فکر سره ښې برابرې دي.له کیسې نه زېږېدونکی خیال یې هم روڼ دی.لوستونکي ته که څه پرېږدي هم، نو د هغه ذهن په کې نه بندیږي. د اوسنۍ لنډې کیسې له تعریفونو سره سم د ده زیاتره کیسې یو مناسب وروستی تمځای یا اوج ټکی لري، چې لوستونکی له اړتیا سره سم ژور سوچ ته اړباسي او په پای کې دا چې د کیسو په لیکنه د ژوندانه لپاره یو ښه پیغام وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.

ددې ټولګې پیل له داسې کیسې شوی، چې زموږ د بې تعلیمه ټولنې یو ښه انځور راښیي.«تعلیم» کیسه زموږ د ژوند کیسه ده. موږ ولې تعلیم نه لرو؟ ولې مو مېرمنې په داسې یوه حالت کې دي، چې د ټیلفون کولو وسه هم په کې نه شته.دا یوه مېرمن نه ده، پوره ولس دی او په هر ځای کې له داسې یوه حالت سره مخ دي، چې نیم ژوند هم ورته نه دی پاتې.د دې کیسې پای هم په داسې یوه انداز شوی، چې لوستونکی فکر کوي، لیکونکی به ګنې نورې خبرې هم لري.اوس – اوس د کیسو همدا بڼه ډېره مناسبه ده، چې لږه کیسه ویونکي ته هم پاتې شي او د پښتو متل له مخې « په نیمه یوه شي!»

دویمه کیسه هم زموږ د اوسني ترافیکي نظم یوه ځنډه راښیي، چې موږ له دغې ژوندنۍ اړتیا سره څه ډول چلن کوو!؟ که څه هم په دغه کیسه کې به ځینې مکالمې اضافي ښکاري، خو په عمومي توګه کیسه دومره لنډه ده، چې دا په کې نه معلومیږي!؟

ورپسې یوه ډېره لنډه کیسه لولو، چې اوس – اوس دغو کیسو ته« کیسه ګۍ» وایي.دا زیاتره د انټرنیټ د وخت کیسه ګۍ دي، چې په لنډ مهال کې دود شوي.ان کله کله د نامسلکي لیکوالو په دغو ډول لنډو کیسو پیښبېږو. دا ډول کیسې نو بخې لنډې دي.معلومیږي، چې انسان له یوې نه بلې ورځې ته څومره د لنډون په منده سر دی.دا یې ښې بیلګې دي.د کیسه ګۍ ټکی هم اوس– اوس دود شوی، خو ما دا ټکی یو ځل مخکې د اروابناد قلندر مومند د لنډو کیسو ټولګې (ګجرې) په سریزه کې کتلی و.دا سریزه د اروابناد کامل مومند وه. کامل صیب د یوه انګلیسي لیکوال N.U.KOK له خولې یوه کیسه ګۍ لیکلې وه، چې داسې وه:

« د اور ګاډي په ډبه کې یوه ښاغلي خپل ملګري ته ووی:

- زه په ارواوو (ارواحو) عقیده نه لرم!

خوا کې ناست ملګری یې ووی:

- ښه، عقیده نه لرې!!»



ښاغلي کامل دې ته« کیسه ګۍ » ټکی کارولی، خو دا ټکی ماته تردې هم پخوانی ښکاري. په پښتو فوکلور کې ډېرې نورې وړې کیسې هم شته، چې زموږ ښځینه یې د کیسه ګۍ په نومونو یادوي. په هره توګه مطلب مې داو، چې په لنډو کیسو کې اوس نورې لنډې کیسې هم راوتې دي. ښاغلی یوسفزی یې وخت ناوخت په فیسبوک پاڼه خپروي.دا کیسه ګۍ «ازادي» یې هم غالباً اول ځل همدلته خپره کړې.که څه هم دا د ښاغلي کاک غوندې هومره لنډه نه ده، خو په همدې ډول کیسو کې د ګڼلو ځای لري.

ددې کیسه ګۍ پیغام خو نور هم جوت دی، خو یوه خبره ده، چې د عسکر او د تورې د خاوند مقابله که اوسنۍ خبره وي، نو بیا خو لږه ګډوډه ده او که پخوانۍ وي او اوس لیکل شوي وي، نو بیا به پرې د «خو» ګوته ایښول لږ ګران وي.خو ده په رڼوالي کې خپلې اوږې سپکې کړې او ګزارشي بڼه یې ورکړې، چې په محتویاتو یې، دی څوک نه شي ملامتوی!!

د «لور= Daughter)کیسه هم لنډه ده، زموږ د پښتني ژوند اوږد داستان په کې پروت دی.د پلار د څېرې انځورنه او بیا ورپسې د لور د ارماني ژوند د یوې ځنډې لیکل خواږه دي. په دې کیسه کې که لور د سپینو وینښتو پر ځای د تورو وینښتو والا وای، لابه دلچسپه وه. په کیسه کې ممکن ځینې لوستونکي هغو ته پاتې کیسه درک نه شي کړای، خو په خپله د کیسې اوسنی پلاټ هم یو بلا پیغام لري.

«سلګۍ» کیسه هم زموږ د ژوند یو اوږد ځوروونکی داستان بیانوي، چې پلرونه له لوڼو سره او یا په بله ژبه نارینه له ښځینه وو سره څه څه نه کوي؟ ددې کیسې پیغام تر نورو ډېر روښانه اواسانه دی!

د «اوښکه» کیسه هم کیسه ګۍ ده، چې د پښتني ښځینه وو د محرمیت او محرومیت داستان ژاړي او په زړه پورې ده.

«برید» کیسه هم د وطن د ویاړونو د یوې برخې کیسه ده، چې څه وړ موږ له نورو سره لاس په ګریوان یو.

ورپسې د «پاچا» کیسه هم زموږ د اوسني خواره واره او بې باوره ژوندانه یوه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانښيي.

بيا د «چوپتيا» کيسه ګۍ هم له آره يوه غټه کيسه ده، خو ده په ډېر مهارت وړه کړې، که نه دا هر يو، ماشوم او مور په ډېر تفصيل بيانېدی شول.

«ښکلا»، « زه بدلنه نه يم» او «حواله» ددې ټولګې وروستۍ درې کيسې دي، چې هر يوه د بيان خاص انداز لري او لوستونکی ډاډمنوي، چې ښاغلی ليکوال عزيزالدين يوسفزی به زموږ د اوسنيولنډو کيسو يو وخت نوموتی ليکوال وي- که خير وي - او ورسره به موږ ته له زړه وړونکو خبرو ډکې کيسې په اوسنيو لنډو کيسو او لا لنډو کيسو (کسيه ګيو) اړوي.

يوسفزي ته دې خدای همت ورکړي، چې د پښتو ژبې د هنري نثر ليکنې ډګر ته په خوشاله زړه رانوتی. او ذهن وفکر يې د کيسې په شان د ژور سوچ خبرو ته وزګار کړی دی.

دده په هره کيسه ډېرې خبرې کېدی شي او ولې به نه شي کېدی، چې زموږ اوسنی ژوند له جګړو، ننګونو، ناوړه دودونو او له ګڼو نورو ستونزو ډک دی او داستونزې د زياترو ترمنځ ګډې دي. يوازې يو کيسه ليکونکی کړای شي، دا ډول چاپيريال په ادبي لفظونو کې وکاږي.

زه ښاغلي يوسفزي ته ددې لومړنۍ هڅې مبارکي وايم. که يو نيم ځای دی چرته ښوېيدلی هم وي، خو اوس ورته له نيوکو نه هڅول ډېره ګټه لري. ژوند يې لا په مخکې دی، څو کاله وروسته به په خپله پوه شي، چې کوم کاره ځايونه بايد سم کړي.

ټولو ته له مينې او درناويو سره

محمد داود وفا

جلال اباد

۲۰۱۵.۵.۱۹

۱۳۹۴.۲.۲۹ل



# زما کيسې

ماشومتوب ښکلی وي،د ملي بس له کړکۍ مې سر ايستی و،مور ته مې ژړل او په لاندې سرک کې روان نور موټرونه مې ترې غوښتل. لاره بنده وه،ملي بس د ماهيپر پورته سر کې ولاړ و،لاندې سرک کې موټرونه کوچني ښکارېدل،په يو تونل به ننوتل او له بل به ووتل؛نو ځکه له پورته د هغې ساحې تصوير راته د ماشومانو د لوبو ميدان و. دا مې د ژوند د لومړي پړاو لومړنی تصوير دی او په ذهن کې مې تر اوسه پاتې،چې په ياد راوړلو يې اوس هم ترې خوند اخلم.

خبره مې پر تصوير رايادو کړه،د کيسې په ټولو توکونو کې مې د تصوير ترسيمول ډېر خوښيږي،کېدای شي دا مينه به مې د هماغه ماشومتوب له وخته راسره مله وه،له مشرانو مې کيسې اورېدلې،کله به چې کوم مېلمه موږ کره راغی؛نو زما تمه به ترې دا وه،چې يوه کيسه پيل کړي،بيا به مې په مينه اورېده،کله به چې خپلوانو کره مېلمانه شوو؛نو د کيسو پنډ به مې له خپلو همزولو ماشومانو سره خالي کړ.

د ښوونځي له دورې سره مې د کيسه ييزو ليکنو سره مينه يوه پر دوه شوه،کتابونه او مجلې به مې د کيسو لپاره ډېر خوښېدل،بيا داسې وخت راغی چې د لومړي ځل لپاره مې د يوې کيسې موضوع په ذهن کې پيدا شوه،د ليکلو کوښښ مې وکړ،يو څه بريالی شوم،کېدای شي دا به مې د کيسو سره د ډېرې مينې او د کيسو د ډېرې لوستنې وجه وه،په هر حال،ملګرو مې ډېره خوښه کړه،ښوونکو وهڅولم،سر له واره مې په مجله کې د خپرېدو لپاره ورکړه او خپره شوه.

کيسه ليکل مې په مينه پيل کړل،کوښښ مې دا و،چې د لوستونکو د نيوکو لړۍ لږه راکمه کړم؛نو ځکه به مې يوه کيسه په ډېر ځنډ کې ليکله،لنډه دا چې دې مينې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو پوهنځي ته کش کړم،دلته مې په مسلکي ډول لیکوالي ولوسته،خپلې لومړنۍ نیمگړتیاوې مې تر ډېره پورې سمې کړې.

دا چې (سلگۍ) زما د لنډو کیسو لومړنۍ ټولگه ده،د خپربېدو بیړه مې ورته هېڅکله نه ده کړې،چې دې خبرې ته خپلو استادانو هم متوجه کړی یم،ما هم صبر کړی،تر ځو داسې یوه ټولگه چاپ ته تیاره کړم،چې د خپربېدو وړتیا او ارزښت ولري.

د کیسې موضوعات مې له خپلې ټولنې رااخیستي،هدف مې د (ادب،د ادب لپاره) څخه ډېر لېرې دی،بلکه د (ادب،د ژوند لپاره) تر سرلیک لاندې مې خپل قلم ځرخولی؛نو هیله لرم چې زما دا هڅې د خپلې ټولنې د دردونو دوا شي!.

اوس یې وخت دی چې له خپلو دوو داسې مشرانو ملگرو څخه د زړه له تله منندوی واوسم،چې دا ټولگه د همغوی هڅونو او لارښوونو ستاسو په لاسونو کې کېښوده،په خپلو ښایسته لیکنو یې لا ښکلې کړه،قدرمن نصیراحمد احمدي،چې تر اوسه زما نالیدلی استاد دی،کتابونه یې د کیسه لیکنې لپاره زما ښوونکي او لارښوونکي دي،چې هم یې وخت ناوخت د فیسبوک او بریښنالیک له لارې راته خپلې نېکې لارښوونې راکړې.

بل هغه چا چې په دې لاره کې یې راته تر هر بل چا ډېر لاس نیوی کړی،په دې مسلک یې لا وپوهولم،زما ښاغلی استاد پوهنمل محمد داود وفا صیب دی،چې تل یې د یو ملگري په ډول راته په دې برخه کې ښې مشورې راکړې. همدارنگه خپلو ټولو ملگرو ته یو ځل بیا کور ودانی وایم،چې ددې ټولگې په خپربېدو کې یې راسره هر راز مرسته کړې ده،د منني الفاظ مې دې تاسو ته لاپیاوړي وي،بې تاسو دې نه شم!.

امین

درنښت

عزیزالدین یوسفزی

۱۵-۳-۱۳۹۴

لغمان - عمرزیي



# تعلیم

ماشوم چغې وهلې... ښځې خپل ټېر ته جوخت نیولی و، په حویلۍ کې یې ښکته او پورته گړندي گامونه اخیستل، نرۍ کړیکو ټول کور په سر اخیستی و، د ښځې په لاس د تاو شوي اوږده مزي له ځوکې مبایل ټال خوړ.

د برنډې په څنډه شین پلاستیکي ترموز ایښی و، ښځه ورتاوه شوه، تر ځنگ یې ښیښنه یې گیلاس ته لاس کړ، ماشوم غلی شو، شېبه وروسته گیلاس له نیمایي اوبو ډک و، د ماشوم خولې ته یې نږدې کړ، هغه مخ واړو، بیا یې کړیکه کړه، ښځې بېرته گیلاس کېښود، له برنډې لېرې شوه، د ماشوم په تندي یې لاس کېښود، سره تبه یې درلوده، په اوږه یې واچو، ورو ورو یې خوځاوه، خو د هغه ژړا ونه درېده، له اوږې یې بېرته لېرې کړ، له غومبورې یې ترې مچه واخیسته، شونډې یې اوږدې کړې، په معصومانه انداز یې وویل:

ـــ بس نو... دغه ده، اوس دې پلار جان راځي.

ماشوم لا هماغسې ژړل، ښځې د لوی ور په لور سترگې واړولې، ور بند و، موبایل یې مخته پورته کړ، په توکمو یې گوتې کش کړې، ښه شېبه یې ورته سترگې نیولې وې، پدې کې لوی ور گړپ کړ، ښځې ور وکتل، له وره یو کوچنی هلک راننوت، شاته یې د ښوونځي بکس ځوړند و، ښځه ژر ورمخته شوه، هلک وویل:

ـــ سلام علیکم مورې! وړورک مې ولې ژاړي؟

ښځې د سلام ځواب ورکړ، خو هلک بیا وار ونیو:

ـــ د کوځې هاغه سر ته یې ژړا راتله.

ښځې موبایل هلک ته وړاندې کړ، په وارخطایۍ یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



— هله پرهده(فرهاده)! ژر شه، پلار ته دې زنګ ووهه، خدای دې نه کي... ورور دې له تبې مړ شو.

هلک د ښځې له لاسه موبایل واخیست، په تېزۍ یې د توکمو په سر ګوتې کېکاږلې، ژر یې غوږ ته نږدې کړ، یوه شېبه غلی و، بېرته یې ښځې ته موبایل ونیو:

— هه! زنګ ورغی.

ښځې موبایل غوږ ته پورته کړ، له مقابل لوري نارینه غږ شو:

— هلو!!

ښځې ځواب ورکړ:

— هلو د پرهد پلاره!

— اورم یې، خیرت دی؟

ښځې ماشوم ته وکتل، غلی و، سترګې یې پټېدلې، بېرته یې موبایل خولې ته نږدې کړ:

— د عابد سره تبه ده، له صبایي نه په یوه چغه دی.

له مقابل لوري بېرته غږ شو:

— نو ولې دې وخته نه خبرولم؟

ښځې ژور اسویلی وکړ:

— کاش چې ما ام تعلیم کړی و، وخته به مې زنګ در وهلی و.

پای



# سور رنګ

په موټر کې ناستو کسانو شور کړ، یوه چیغه کړه:

— استاده! لږ ورو ځه...داځه کوې!؟ که په ژوند تنګ یې، موږ خو نه یو کنه..

له وروستۍ چوکۍ بل غږ کړ:

— هو استاده! رښتیا وایي، لږ ایطیاط کو.

دموټروان (استاد) تندی ګونځې شو، له ځانه سره وبړبړېده، څوشېبې په موټر کې چوپه چوپتیا شوه، ناستو کسانو بېرته له یوبل سره خپلې خبرې پیل کړې، تر څنګ مې، ښیښې خواته دنګ، نری ځوان ناست ؤ، مخ یې ماته راواړو، په غټو تورو سترګو یې ورپ سپینې عینکې وې، نري برېتونه یې درلودل، ږیره یې لنډه وه، راواړاندې شو، ورو یې راته وویل:

— ډربور ته دې پام دی!؟

زر یې بیا وویل:

— غوصه ام لا دی دی، که اوس ورنه په سړک کې دترافیکي نښو پوښتنه وکې، یوه بم جواب نکې.

ومې ویل:

— بې ازموښنې یې لېسانس جېب ته کړی، څه غم یې کۍ.

ځوان بیا وویل:

— کاش اډه کې پرې پوه وم، که خو ورسره راغلی وم.

پدې کې مخکني کس چیغه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــ مخې ته وگوره استاده!!...

له چیغې سره په سړک کې دټایرونو دسولېدو غږ پورته شو، مونږ یودم په مخکنۍ چوکۍ لاسونه ولگول، د ټایرونو سوځېدونکی بوی مو حس کړ، په موټر کې شور جوړ شو، دټولو غاړې اوږدې شوې، په ډرېور یې چیغې کړې، موټر مو مخامخ ټېلرته نږدې شوی ؤ، ټېلرهم تر خپلې وسې قابو شوی ؤ خو زر ترې یو ډبل، غټ او برېتور ډرېور ښکته شو، زمونږ خواته راغی، په غوصه یې وویل:

ـــ ته ډرېور یې یا(...)!!؟

پدې کې زمونږ ډرېور ورښکته شو، غوښتل یې چې دملامتې سربېره، ورسره جگړه هم وکړي، خو مخکنی کس زر ورپسې ښکته شو، دټېلر ډرېور مخ ته ودرېد، په مؤدبانه انداز یې ورته وویل:

ـــ خیر دی استاده!.. ملامتي زمونږ وه، ستادې کور ودان وي چې په مونږ مخامخ رانغلې.

داخل دټېلر ډرېور له غوصې پرته وویل:

ـــ گوره وروره! ایتاسو ټولو دمرگ و ژوند مسولیت په غاړه لري، لږ ایطیاد دې وکي.

بیایې په سړک کې سپینې کرښې ته لاس ونیو او ویې ویل:

ـــ ده ته باید متوجې شي چې بل موټر نه مخکې نه شي اوپردي لاس ته وانه وړي.

شېبه وروسته بېرته په خپل موټر کې ناست وو.

د ډرېور رنگ الوتی و، خو هېڅ یې له خولې نه وتل، یوه پرې غږ کړ:

ـــ استاده! اغه دې ندي اورېدلي چې...(ایطیاد دژوند سرمایه ده).

له شاته چوکۍ نه بل غږ کړ:

ـــ استاده! که اره ورځ دې امدا حال وي؛یقین نه کوم نوره سورلۍ درسره رایشي.

پدې کې ډرېور موټر غاړې ته ودرو، په غوصه یې مخ راواړو، ویې ویل:

ـــ داخو اغه پخوانی میلي بوس ندی چې په یوه ورځ کې بم نشو رسېدی...دې ته



مرسیدس وایي، باید تېز لاړ شي.

یوه ځواب ورکړ:

ـــ خیر غواړه استاده! ار څه نه خیر بېتره ده.

ډرېور بېرته موټر روان کړ، نور هېڅچا ورته څه ونه ویل، ځکه چې خبرو او نصیحت پرې اثر ونکړ، یواځې دا مو غوښتل چې اوس په خیر ورسېږو او بس.

ترخنگ مې ناست ځوان راباندې غږکړ:

ـــ وبښئ! یو ساعت کېږي چې خواپه خوا ناست یو، خویو دبل په نومونو نه یو خبر.

موسکی شوم، نوم مې ورته وښود او زیاته مې کړه:

ـــ او ستاسو!؟

ـــ زما نوم کریم دی.

ځوان موسک شو، بېرته یې له ښیښې دباندې سترگې سیخې کړې...لېرې غټ اولوی غرونه پراته ول، لمنې یې سیند ته ښکته شوې وې...شنې ښکارېدې، سیند له اوبو ډک روان ؤ...څپې یې سپینې اوجگې وې، د سیند دې غاړې ته ښکلې شنه پټیان ښکارېدل، کله کله به مو تر سترگو یو، دوه موټر تېر شول.

کریم خپل ورغوی له ښیښې اووېست...شېبه وروسته یې بېرته مخ راواړو، شونډې یې له نریو برېتونوسره وخوځېدې:

ـــ دوه کاله بعد مې داښکلې هوا حس کړه.

زر مې وویل:

ـــ ولې؟ لکه چې خارج کې وې؟.

کریم بېرته لاس له ښیښې راټول کړ، ویې ویل:

ـــ هو!.. په ترکیه کې وم، دطب پوهنځی وایم، په کلنۍ روخصتۍ راغلم او...

دکریم خبرې لا خلاصې نه وې چې مخکني کس چیغه کړه، له چیغې سره مو زورور ټکان وخوړ، تر غوږ مې دښیښې دماتېدو اواز اویو غټ درز شو...په ځان پوه نه شوم، په سترگو مې تیاره خوره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېبه وروسته مې په سر درد احساس کړ، سترګې مې نه خلاصېدې، خودخلکو اوموټرونو شور مې ترغوږ کېده، په ډېرې ستونزې مې سترګې خلاصې کړې، ځمکه راباندې تاوېده، هرڅه راته تت ښکارېدل، خو ورو ورو هر څه روښانه شول، دسړک په غاړې غټې تیګې ته تکیه وم، مخامخ مې وکتل...زمونږ موټر سرچپه پروت ؤ، ترڅنګ یې بل مرسیدس په بغل لوېدلی ؤ، دسړک دواړو خواوو ته ډېر موټر ودرېدلي ول، له دواړو جنګېدلو موټرونو نه خلک چارپېره تاوېدل، چا موبایل غوږ ته نیولی ؤ... او نورو به د موټرونو له منځ نه یو یو کس راووېست، په دې کې مې سترګې په کریم ولګېدې چې له ما نه لږ لېرې پروت ؤ، سترګې یې پټې وې...په تندي یې سرو وینو لارې کړې وې، له نریو برېتونو یې تېرې شوې وې، سرته یې په وینو ککړ دستمال ایښی ؤ، ترڅنګ یې دسپینې وږې عینکې ټوټې پرتې وې...

کوښښ مې وکړ چې پورته شم، خو ښې پښې مې حرکت ونکړ، نری درد یې وکړ...لاندې مې ور وکتل، پایسه مې په وینو سره وه، زر مې پورته کړه...دزنګون لاندې غوښه څیرې وه، دهډوکي سپینه څوکه ترې راوتلې وه.

په دې کې یو څوک مې ترڅنګ راغی، لاس کې یې د اوبو بوتل ؤ، زر یې راته په خوله کې راکړ، یو ګوټ مې ترې وکړ...دامبولانس غږ شو، بوتل مې بېرته ولاړ کس ته ونیو، ولاړ کس زر وویل:

ــــ اغه دی...امبولانس راغی، الله به خیر کي.

له امبولانسه دوه کسانو رامنډه واخیسته... سپینې جامې یې پرتن وې، دواړو سپینه اوږده اوسپنیزه تخته نیولې وه، لومړی کریم ته ورسېدل...دواړه کېناستل، یوه دکریم غاړې ته لاس نږدې کړ...خو بېرته غلي پاڅېدل، یوه سپینه ټوټه پرې خوره کړه.

زما تر څنګ ولاړ کس راټیټ شو... اوږه یې رالاندې کړه او دامبولانس خواته یې روان کړم، پدې کې مې سترګې دسړک دغاړې په ترافیکي لوحې ولګېدې...دایروي شکل یې درلود، په دایره کې ددوو خواپه خوا موټرونو رسمونه ول...ښې یې تور، خوکیڼ لوري ته په سور رنګ کښل شوی ؤ.

پای



# آزادي

خرپ شو...د عسکر له سر نه اوسپنیزه خولۍ ولوېده، توره په لاس زلمي (الله اکبر) کړ، د زلمي مخ ته د خړې دربشۍ لرونکي عسکر له غاړې وینو داره وکړه...په خړه خاوره د سرو وینو لیکه ولوېده، د عسکر سترګې رډې ووتې، ګېلېټۍ (ټوپک) یې له لاس نه ځوړند شو...سمدستي شا ته ولوېد، فضا دوړو نیولې وه، د ځمکې سر په وینو او خړو دربشیو رنګ و...

له هرې خوا د (الله اکبر) چغې شوې، زلمي شاخوا وکتل...ځوانانو ملاوې په څادرونو تړلې وې، په سرونو یې سپین دستارونه تاو ول، توري یې په وینو سرې برېښېدې...زلمی موسک شو، توره یې د اسمان لور ته نېغه کړه، څوکه یې وبرېښېده...له خولې یې لوړه ناره پورته شوه:

ــــ ازادي!!!...

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لور

هېنداري ته ودرېدله، سترګې يې لـه اوښـکو ډکـې وې، د ټيکـري لانـدې يـې تـور وېښتان وتي ول، يو يو سپين په کې له ورايه ښکارېده، ښه شېبه يـې سـترګې هنـدارې ته نيولې وې، د مخ د ګونځو په ليدو يې مرې اوښکې له سترګو راووتلې، په غريو شوه، پورته يې وکتل، سترګې يې په تورو تيرانو ولګېدې، بانه يې يو بل کـې وروسـتل، لانـده شول...

په غټ نارينه غږ يې ټکان وخوړ:

ــ فاطمې لورې!؟

جلۍ ژر په اننګو ګوتې کش کړې، غږ يې کړ:

ــ دلته يم ابا! درغلم.

له کوټې ووته، د حويلې منځ کې په زاړه فرش باندې سپين ږيري سړي پيتـاوي تـه ډډه وهلې وه، فاطمې ژر وويل:

ــ ستړی مه شې ابا! لکه چې بازار ته نه وې تلی!؟

سړي لونګۍ ته لاس کړ، بغل ته يې کېښوده، ويې ويل:

ــ نه لورې! نه وم تلی.

ډبلې ګوتې يې په خپلې لنډې سپينې ږيرې کش کړې، بيا يې زياته کړه:

ــ حاجي تور خان پوزې ته راوستی يم، نور يې راته حوصله تمامه کړې.

فاطمه هماغسې غلې ولاړه وه، لاندې ځمکې ته يې کتل، پـلار يـې خپلـې خبـرې وغځولې:



ــ خير...زما نوم ام لونګ دی، که بيا يې رایاده کړه، نو زه به يې ام خوښ شم.

***

په حويلۍ کې د ولاړې غټې ونې څوکه د مازيګر لمر ژېړه کړې وه، فاطمې په نغري ايښې تور چای جوش ته لاس کړ، پلاستيکي لوټکـه يـې تـرې ډکـه کـړه، د برنـډې پـه څوکه يې کېښوده، غږ يې کړ:

ــ ابا! اودس ته مې درته اوبه راوړې.

لونګ له کوټې راووت، فاطمې ته يې وکتل، نغري ته ناسته وه، ويې ويل:

ــ خير ويسې لورې! بې له تا خو زه هېڅ يم.

فاطمه موسکۍ شوه، وچ لرګی يـې نغـري تـه ننـه ايسـت، غلـې وه، لونـګ لـه سره لونګۍ لرې کړه، د اشدارې په راوتـلې مـېخ کـې يـې وځړولـه، کـيڼ لاس يـې پـه پکـه ککرۍ تېر کړ، لوټکې ته نږدې شو، دواړه لستوڼي يې تر څنګلو بـډوهل، کېناسـت، بيـا يې وويل:

ــ دې خلکو ته دې خدای هدايت وکي، زما حال ته نه ګوري، بيا ام راته رامنـډې وهي.

فاطمه نغري ته ټيټه شوه، مړو سکروټو ته يې مخ وړاندې کړ، په شونډو يې پـوکې وکړ، سترګې يې تنګې شوې، له تورو سکروټو لمبه پورته شوه، بېرته په نېغېدو يې د لوی ور زنځير شرنګ کړ، شاته يې وکتل، پلار يې د ور پر لور روان شو، لسـتوڼي يـې ښـکته کول، فاطمې بېرته نغري ته مخ واړو، د تور ديګي لانـدې سره لمبـه تاوېـده، خـو ژر يـې بېرته لوی ور ته وکتل، له پلار سره يې له ونې ټيټ، ډنګر سـړی راننـوت، ژر پاڅېـده، د هغوی مخې ته لاړه، په مسکا يې وويل:

ــ ماما جانه! سلام عليکم، ستړی مه شې.

سړي په سر مچ کړه، ځواب يې ورکړ:

ــ ژوندۍ اوسې فاطمې بچۍ!

شېبه وروسته په برنډه کې لونګ او له ونې ټيټ سـړی ناسـت و، فـاطمې لـه نغـري ديګی لرې کړ، بېرته يې تور چای جوش کېښود، د برنډې پـه لـور يـې وکتـل، د هغـوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې يې اورېدای شوې، له ونې ټيټ، ډنگر سړي ووېل:

— گوره لونگه! خور و لور به ترڅو د پلار په کور ناسته وي، پرېږده چې خپل ژوند جوړ کي.

لونگ يې ژر په خبرو کې ولوېد:

— خه نو معلم صيب! لکه چې حاجي تور خان ته ام په کراره پرېښودې!؟

معلم فاطمې ته وکتل، کوټې ته ننوته، بېرته يې ځواب ورکړ:

— لونگه! همدومره ظلم بس دی، نوره خوارکۍ په زړېدو ده، هسې ام حاجي تور خان لا دومره زوړ نه دی، دوه بچيان ورته يسيران پاتي.

په دې کې فاطمه له کوټې راووته، د پيالو پتنوس يې د برنډې په څوکه کېښود، بېرته د نغري خواته لاړه، لونگ ښه شېبه غلی و، بيا يې زياته کړه:

— معلم صيب! ماته به خذمت څوک وکي؟ فاطمه ام غواړي چې تر مرگه پورې له ما سره وي.

معلم يې په خبره کې ولوېد:

— هغې خوارکۍ خو له حيا ځان غلی نيولی، ايا کله دې ورنه پوښتنه کړې، چې هغه څه وايي!؟

لونگ غلی شو، فاطمې د چای ترموز راوړ، پيالې يې ترې ډکولې، لونگ ژر ووېل:

— دغه ده معلم صيب! اوس به يې ستا په مخ کې وغږوم.

فاطمې ته يې مخ واړو، ويې ويل:

— فاطمې لورې! حاجي تور خان ستا غوښتلو ته راځي، ته پکې څه وايې؟

د فاطمې له لاسه ترموز کوږ شو، يو دم له سترنجۍ تاو پورته شو، غريو ونيوله، ژر پاڅېده، د کوټې په لور يې منډه کړه...

پای



# سلگۍ

د جلۍ له سترگو دوه رڼې اوښکې روانې شوې، لاندې په خړ فرش ولوېدې، بانه يې يو بل کې ننوتل...لانده شول، ژړا يې زور ونيوله، ښه شېبه يې وژړل... غلې شوه، پښې يې ټولې کړې، زنه يې په زنگنو کېښوده، سترگې يې له سرو رگونو ډکې وې، په ډنگرو اننگو يې اوښکې ورغړېدلې...

چوپه چوپتيا شوه، خو يو دم به له بېرون نه د سړيو خنداگانې راغلې، د کوټې په کونج کې په تن ډنگرې جلۍ حرکت نه درلود، د توتکيو شور شو... پښو ته يې نيم ژواندی چينجی ولوېد، پورته يې وکتل، په چت کې د تير له اړخه د خټو له وچو ځاځکو جوړه شوې ځاله نښتې وه، توتکۍ له دريڅې ووته، بچيانو يې له ځالې غاړې وويستې، خولې يې وازې شوې، وچونگېدل... بې بڼو وزرونه يې ورو ورو رپېدل، په سرونو يې ځای ځای مړه وېښتان نښتي ول.

د کوټې ور غنجا کړ... جلۍ ژر لاندې ځمکې ته وکتل، په اننگو يې گوټې کش کړې، لندې شوې، په وره کې له ونې لوړ سړی ښکاره شو، ورپسې نری، ډنگره ښځه راننوته، سړي لنډه ږيره درلوده، سپين پکې زيات ښکارېدل، په پکه ککرۍ يې څو تاره مړه وېښتان پراته ول، په څېره يې د ژور خفگان نښې وې... وړاندې راغی، د جلۍ تر څنگ ودرېد، نری، ډنگره ښځه جلۍ ته نږدې کېناسته، چاودلي لاسونه يې د جلۍ مخ ته وړاندې کړل، له ټټر سره يې جوخته کړه، جلۍ غريو ونيوله، د ښځې مخ گونځې شو، سترگې يې ډنډې شوې، دواړو ورو ورو ژړل...

د توتکۍ بچي وچونگېدل، سړی غلی ولاړ و، ښه شېبه يې جلۍ ته وکتل، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو يې اوښکې روانې شوې، د ږيرې په منځ کې يې ننوتې، ورو يې خوله وخوځېده:

ــــ سپوږمۍ!... لورې! څه وکم؟ پښتو ده، مجبور يم...

د سرې خبرې بندې شوې، له بلې کوټې غږ شو:

ــــ باز مامده! ناوخته دې کړه.

باز محمد ژر ځان کاټ کړ، لمن يې سترګو ته نږدې کړه، له کوټې ووت...

ترخنګ کوټه له سړيو ډکه وه، په خپلو کې يې خبرې کولې، د باز محمد په ننوتو ټول غلي شول، بر سر کې په عمر پوخ سړی ناست و، تر خوا يې دېوال ته لرګينه امسا ولاړه وه، د خړې لونګۍ لاندې يې سپين وېښتان معلومېدل، په موټي ږيره يې د تور رنګ نښې وې، ګوتې يې د لور ته ورته برېتو په څوکو کش کړې، په لوړ غږ يې وويل:

ــــ باز مامده! د زوی مرګ ډېر سخته وي، هغه ام د يکي يو زوی.

شاوخوا يې وکتل، بېرته يې خبرې پيل کړې:

ــــ سپين ږيرو ته دې خدای خير ورکي، چې زما و ستا تر منځ يې جوړ جاړی وکه.

تر خوا يې ناست سپين ږيري ژر ووېل:

ــــ ملک صيب رښتيا وايي باز مامده! يار مامد له ملک صيب سره ډېر ظلم وکه، په مخ کې يې ورته زوی وواژه.

له ښکته بل سړی يې په خبرو کې ولوېد:

ــــ تېر په هېر بازمامده! د ښمني مو په دوستي بدله شوه، اوس دې ملک صيب زوم شو.

باز محمد غلی ناست و، د فرش په کرښو يې ګوتې کشولې، خو دا ځل يې دملک په غږ سر پورته کړ، ملک ووېل:

ــــ بازمامده! زوی دې که هر چرته يي، راويې غواړه؛زما له خوا به ورته کوم تاوان ونه رسيږي.

ملک ټوخي ونيو، ښه شېبه يې وټوخل، بيا يې زياته کړه:

ــــ دا دې جرګې خبره ده، وروسته لدې ورسره کار نلرم.

پدې کې د کوټې له هرې خوا غږونه شول:



ــــ هو! هو! رښتيا وايي.

دا ځل دملک تر خوا ناست سپين ږيري وار ونيو:

ــــ ورونو! غلي شئ!.

بيا يې بازمحمد ته مخ واړو، ويې ويل:

ــــ بازمامده! په موږه ناوخته کېږي، بېرون مو د ډولۍ تياری کړی، ناوې راوباسه چې لاړ شو.

بازمحمد ژر پاڅېد، له کوټې ووت، له هرې خوا غږونه شول... ملک ته يې مبارکي ويله، خو له بلې کوټې د سپوږمۍ سلګۍ ټولو اورېدلې...

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښکه

په ګرم وجود مې يخه هوا ولګېده، سترګې مې وبرېښېدې، په لومړي ځل مې رڼايي وليده، د يو چا په اننګو ورغړېدم؛وچو شونډو ته يې په رسېدو ودرېدم...بېرته مې شا ته وکتل، نورې ملګرې مې هم له رغړېدو وروسته ماته راورسېدلې، وجود مې درونډ شو...ملګرې مې راځخه بېلې شوې، له زنې يې واوښتې؛لاندې د ګرېوان لوري ته يې ځانونه ورسول...

ما هماغسې د شونډو پر سر ځان ټينګ نيولی و، د خپل د پيدايښت په حقيقت مې ځان پوه کاوه...

پدې کې مې وجود ولرزېد، د سلګيو غږ مې ترڅنګ پورته کېده، ناڅاپه مې تر غوږو ډډ نارينه غږ شو:

ــ ګوره لورې! حاجي تورخان په ټوله سيمه کې نوم لري، خلک ورته لاس په نامه ولاړ يي.

مخامخ مې وکتل...لوړ هډور سړی ولاړ و، ښه شېبه غلی و خو بيا يې سترګې زما په لور برګې کړې؛چغه يې کړه:

ــ بس!! دا اوښکې دې بندې که!.

زما وجود لا لرزېده، ورو ورو سلګۍ مې اورېدې، خو بيا ډډ نارينه غږ مې واورېد:

ــ ګوره جلۍ! خير که سپين ږيری دی، د پيسو شمېر يې نه نيول کېږي، د حاجي تورخان مېرمن به يادېږې!!.

د جلۍ سلګۍ ډېرې شوې، ټول بدن يې لرزېده، نور مې ځان ټينګ نه کړای شو،



د سترګو رپ سره لاندې د فرش په تارونو کې ننوتم؛ ژر مې پورته وکتل، د جلۍ مخ راته تت ښکارېده، سترګې يې ماته نيولې وې، ډېره بې وسه ښکارېده، غوښتل يې، چې ورسره پاتې شم، خو زما وجود په فنا کېدو و...

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برید!!!

درزشو...مړه  دوړه لـه خاوروپورتـه شـوه، جـمال دلـومړۍ لیکـې کنـدې تـه ځـان واچو..بله مرمۍ يې دسرله پاسه تېره شوه، له ښـي اوکـیڼ لـوري یـې نوروملګروځانونـه دکندې منځ ته وغورځول، ټولوپه بیړه خپلوټوپکونوباندې ګوتې کش کړې...چمتوشول، خوټول دقوماندان غږته په تمه ول.

له مقابل لوري د وړومرمیوباران ؤ، تنګه تیاره دره دډزو شورپسې واخیسـته، دکنـدې شاوخوابه ګردونه پورته شول، جمال سره دملګرودېربې صبره ښکارېده، ترڅنګ ملګـري باندې یې غږکړ:

ـــ انوره! قوماندان صیب ولې مونږته امرنه کۍ!؟

دکندې مخکنۍ برخې نه دوړه پورته شوه...انورسرټیټ کړ، په اوسپنیزې خـولۍ یـې ګردونه پرېوتل...دخولۍ مخکنۍ برخې ته یې لاس کړ، ټکان یې ورکړ...ښـي اړخ تـه یې وکتل، په لوړغږيې وویل:

ـــ اغه دی!..قوماندان صیب راغی...

جمال ښي اړخ ته مخ واړو...دقوماندان په لاس کې تـوره مخـابره ښـکاره شـوه، پـه کنده کې په ډېرې بیړې روان ؤ، دهرسرتېري شاته چې رسېده خوله به یې وخوځېده، په اوږه به یې ورته لاس کېښود...داسې لکه ډاډچې ورکوي، بیابه روان شو...

قوماندان دکندې منځنۍ برخه کې ودرېد، دمرمیوشنهارۍ ؤ...په لوړغږيې وویل:

ـــ سرتېرو! دښـمن پـه مـونږه ناڅـاپي بریدکړی...داسـې ښـکاري چـې لـه پـولې دېخواهم راغلي...



پدې کې چوپـه چوپتیاشـوه...ډزې ودرېـدې، قومنـدان غلـی شـو، تنګـه تیـاره دره شـنولوګیوپه سراخیسـتې وه، سرتېرویوبـل تـه پـه حیرانـۍ وکتـل خوبېرتـه یـې مخونـه دقوماندان خواته واړول، قوماندان زیاته کړه:

ـــ ځوشبې مخکې له مرکزسره په اړیکه کې وم...له پېښـې مـې خبرکـړل، خوپـه ډېرې خواشینۍ چې مونږته یې دبریدامر ورنکړ.

داځـل دقومنـدان خـبرې ټولوبغیردکـومې سـتونزې اورېـدلې، دجـمال مـخ لکـه دنوروسرتېروپـه شـان لـه ډېـره قهـره تـک سورؤ...سـترګې یـې لـه سرورګونـوډکې وې، قوماندان خپلې خبرې وغځولې:

ـــ میړنوسرتېرو! خومونږنورغلي نه شوپاتې کېـدی، ...کـه داځـل لـه دښـمنه یـوه مرمۍ هم زمونږخواته راغله...نوغاښ ماتوونکی ځواب به ورکو.

ټولوسرتېروپه غبرګواوازونوتکبیرونه وویل، ښه شېبه غلي ول، خو له مقابل لوري څه ښکاره نه شول.

***

دسهارپه سپینه کـې سرتېرودکنـدې شـاوخواوړې خړرنګـه خلتـې ډکـولې، بیابـه یـې دکندې په مخکنۍ برخه کې یوپربل کېښودې، په تنګـه شـنه دره کـې چوپـه چوپتیـاوه، خوکله کله به یوکارغه کاغ کاغ کړ، دشني فلزي غرفـې پـه سر، تـور سـور زرغـون بـیرغ رپېده، نورو سرتېرودخپلوغرفومخته غټې خلتې چې په مرمیوسوري ښـکارېدل اوبېرونـۍ برخه یې په ډېلوسیمانواوبدل شوې وې...له خاورو ډکولې.

قوماندان دکندې اړخ ته په جګـې پښـتې ولاړؤ...دوربـین یـې سـترګوته پورتـه کـړ، مخامخ لېرې ځای یې وڅاره، بغـل تـه یـې پـه کمربنـدکې ځوړنـده مخـابره وچونګېـده، خولاس یې ورنه وړ، شېبه وروسته یې مخامخ ټول ځای له دروبینـه تېرکړ...لاسـونه یـې بېرتـه لـه سترګوښـکته کـړل، شـاته یـې لانـدې وکتـل، پـه جـمال یـې سـترګې ولګېدې...غږیې کړ:

ـــ جماله!!

جمال په بیړه دپښتې سرته پورته شو...قوماندان ته مخامخ ودرېد، پښـې یـې یوبـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته جوختې کړې، لاس يې دسلامۍ لپاره پورته کړ، له بېرته ښکته کولوسره سم يې شونډې وخوځېدې:

ــــ قومندان صيب!...امرکوی

قومندان ورته موسک شو، دجمال په اوږه يې لاس کېښود، دواړه دپښتې په سرورو ورو روان شول.

قومندان وويل:

ــــ جماله! دتېرې شپې کړنې دې ډېرخوشاله کړم.

جمال موسک شو...سريې ځوړندۇ خوځه يې ونه ويل، قومندان بياخپلې خبرې وغځولې:

ــــ په داسې بريدونوکې...ددښمن لومړنۍ نښه پايره کوونکی وي...چې خطاکېدل يې ناممکن وي، خوتاورنه خپل ځان بچ کړ.

ددواړوپه ځېروکې خوښي وه، ورو ورو يې ګامونه پورته کول، لږه شېبه وروسته قومندان ودرېد...جمال ته مخامخ شو، ويې ويل:

ــــ زه تاغوندې سرتېروباندې وياړم...جماله!!

جمال لاهماغسې ښکته کتل، قومندان لږمخته لاړ...له پولې هاخوايې ددښمن پوستې ته وکتل، سر باندې يې په شين اوسپين رنګ بيرغ رپېده...چې سپين يې کم خودشين رنګ په منځ کې يې هلال اويوستوری ښکاره کېده.

قومندان په داسې حال کې چې سترګې يې له قهراونفرت څخه ډکې وې، وويل:

ــــ دښمن بېرته په شاتلی...شايدچې له دولت سره يې زمونږچاړواکوخبرې کړې وي.

بېرته يې جمال ته مخ واړو، ويې ويل:

ــــ خو...مونږبايدبريدته چمتوواوسو، ځکه ...داسې ښکاري چې دښمن بيادکوم بريداراده لري.

***

مازيګرلړيه لوېدو ؤ، دښتروڅوکې زېړې ښکارېدې...يوه يوه مرغۍ به



ترسترګوشوه چې دښتروپه منځ کې به ننوته...

جمال ديونښترډډ ته ملا لګولې وه، ترخوايې ټوپک پروت ؤ، په لاسونوکې يې سپين کاغذنيولی ؤ...څه پکې ليکل شوي وو، شونډې يې خوځېدې، يودم به له ځان سره موسک شو...

شېبه وروسته يې دکوم چاغږواورېد، شاته يې وکتل...انور ؤ، غږيې کړ:

ــــ انوره! راځه کنه..

دسترګوپه رپ سره يې انورترڅنګ کېناست، جمال ته يې وکتل، په لاسونوکې يې کاغذنيولی ؤ...ډېرخوشاله ښکارېده، زر يې پرې غږکړ:

ــــ جماله! لکه چې له کورنه راغلی!؟...دواده يې څه وئيلي؟ څه وخت دی له خيره؟.

جمال کاغذجېب ته دننه کړ...نږدې شو، دواړه لاسونه يې دانور له غاړې چارپېره کړل، خوله يې وخوځېده:

ــــ هو...انوره! راتلونکې اونۍ ته مې واده دی.

دواړوسره غاړه ورکړه، خودجمال سترګوته مخامخ دپولې ترڅنګ څه ښکاره شول، زرجلاشو، په بيړه يې وويل:

ــــ انوره! هلته وګوره...څه درته ښکاري؟

انورمخ واړو...ځيرشو، زردواړوخپل ټوپکونه پورته کړل، دپوستې خواته يې منډه کړه، قومندان ددوی په غږونوله غرفې راووت...دوربين يې سترګوته پورته کړ، ددښمن په لوريې وکتل...دپوستې شاوخواسرتېروځانونه چمتوکول، ددوربين له مخې به دوه درې کارغان تېرشول، شاوخواځايونه يې له دوربينه تېرکړل، خويودم په بيړه يې دپوستې لاندې برخې ته وکتل...يوسرتېری مخکې دی اودوه نور ورپسې له پولې دېخوادجګې غونډۍ لورته راروان دي، دمخکني سرتېري په لاسونوکې لکړه ښکاره شوه، چې څوکه کې يې په شين اوسپين رنګ بيرغ رپېږي، سپين يې کم خودشين رنګ منځ کې يې هلال اويوستوری ښکاري.

قومندان زردچمتوکېدوامروکړ، جمال سره دنورملګروځانونه کندې ته وغورځول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلوټوپکونوپه ماشو يې ګوتې کېښودې، دکندې دواړه خواؤته غټې وسلې بريدته چمتوشوې.

قومندان درې سرتېري څارل...دجګې غونډۍ نيمايي ته رسېدلي ول چې له مقابل لوري نه دغټې وسلې بريدوشو...دکندې بغل نه توره دوړه پورته شوه، قومندان زرپه لوړغږ وويل:

—— بريد!!!...

بغل ته غټې وسلې درزکړ...دسترګو رپ سره ددښمن له پوستې دوړه پورته شوه، له کندې نه دوړومرميوشنهارى وخوت، له دواړو لورو نه يوپربل دمرميوباران ؤ...تنګه شنه دره دډزو ازانګوپه سراخيستې وه، دنبنتر منځونه له مرغانو نه خالي وو...

انور قومندان ته چېغه کړه، په لوړغږيې وويل:

—— قومندان صيب!!...جمال!!!؟

قومندان زر جمال ته وکتل چې له کندې نه په لېرې فاصله کې دجګې غونډۍ په لورمنډې وهي، زريې دوربين سترګوته پورته کړ، ويې ليدل چې درې سرتېري دجګې غونډۍ په سردبيرغ په ودرولو بوخت دي، بېرته يې جمال پسې چېغه کړه، خودهغه ټول فکر ددرې سرتېروپه لورؤ.

جمال تېزه منډه وهله...شاوخوابه يې يودم مړه دوړه پورته شوه...زر ودرېد، ټوپک يې دواړولاسونوته کړ، ګونډه يې ووهله...ټوپک يې په ښي اوږه کېښود، دجګې غونډۍ په لوريې ونيو...له غوږسره يې جوخت کړ، کينه سترګه يې پټه کړه، دښي په منځ کې يې بيرغ نيوونکى راوست...په ماشه يې ګوته کش کړه، ډزشو...دجګې غونډۍ په سردبيرغ سره يوځاى يوسرتېرى په ځمکه پرېوت، په خواکې يې دوو نورو سرتېروخپل ټوپکونه جمال ته سيده کړل...جمال بياپه ماشه ګوته کش کړه، له دواړولورونه ډزشو، دجمال په کينه اوږه کې نرى دردتېرشو...بغل ته ولوېد، بېرته پورته شو، جګې غونډۍ ته يې وکتل له دووسرتېرو نه يوولوېد، خوبياپورته نه شو، ترڅنګ يې بل سرتېري له جګې غونډۍ نه ښکته لورته منډه واخيسته، دجمال کيڼ لاس ځوړندؤ...ټوپک ته نه پورته کېده، ټوپک يې په ښي لاس اوږې ته پورته کړ...کينه



سترګه يې پټه کړه، په ماشه يې ګوته کېکاږله، له ډزسره سرتېرى دجګې غونډۍ له لمن نه لاندې ولوېد، خوبياپورته نه شو، يودم ددښمن له پوستې نه يوه زربه وچلېده...دجمال له ټټرنه وينوداره وکړه، کيڼ اړخ ته وغورځېد، پدې کې ددښمن له پوستې نه سره لمبه پورته شوه...په تورو دوړوکې ورکه وه، له سرتېرويې سرې لمبې تاوېدلې، په منډو ول، چغې اوکوکارې يې وهلې...

دجمال سترګې پټېدلې...هرڅه ورته تت ښکارېدل، خوداخرځل لپاره يې وکتل چې انور سره دڅوسرتېرو دده په لور رامنډې وهي...

پاى

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا لنډه کیسه د ۱۳۹۳ لمریز کال د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د ځنډ لپاره، د همغه وخت مناسب لیکل شوې وه.

# پاچا

ماشوم په زاړه ټیم کې مزی واچو، په خړو خاورو یې کش کړ، د سترګو رپ سره د حویلۍ اخر ته ورسېد، له ځمکې تاو پورته کېده، حویلۍ سیوری نه درلود، په منځ کې یې یوازې یوه خېمه ولاړه وه، د هلک له خولې د موټر غږ پورته کېده...هارنډونه یې وهل، بېرته د حویلۍ بر سرته راغی، لوڅو پښو یې د خاورو رنګ اخیستی و، له رنګه تور مخ یې لمر ته برېښېده.

له خېمې په تن ډنګره ښځه ووته، ټیکري یې څو ځایه پیوندونه درلودل، د مخ راوتلي هډوکي یې له ورایه ښکارېدل، ننوتې سترګې یې تنګې کړې، لمر وهلي لاسونه یې تندي ته پورته کړل، په ماشوم یې غږ کړ:

ــــ اختر مامده! جل به دې ووهي، راځه...مر دی!!.

ماشوم دا ځل زاړه ټیم ته ټیټ شوی و، مزی یې ترې ټینګ تاو کړ، خو زر یې وویل:

ــــ ادې!! ابا مې راته نوی موټر راوړي!.

ښځه بېرته شاته شوه، د خېمې مخ ته ککړ لوښي پراته ول، تر څنګ یې د اوبو بوشکه په بغل لوېدلې وه....څو شېبې ودرېده، سترګې یې په نغري ولګېدې، سوړ ښکارېده، شاوخوا ترې خالي ټیمي قوطۍ ګانې پرتې وې، یوه غوړه وه، د مېږیانو لیکه ترې وته او ننوته...



د حویلۍ ور ګړپ کړ، ماشوم چغه کړه:

ــــ اغه دی! ابا مې راغی!!.

ښځې سترګې واړولې، په وره کې له ونې لوړ، نری سړی ښکاره شو، په ښي اوږه یې خیرنه پلاستیکي کڅوړه ایښې وه، ترې لنډې او اوږدې اوسپنیزې تختې وتې وې، په تندي یې د پخواني ټپ نښه معلومېده، زنه یې په موټي ږیرې پټه وه، په سر یې د سپینې خولۍ شاوخوا لنده توره لیکه تاوه وه...

شېبه وروسته د خېمې دننه درې تنه ول، ماشوم د مور په غېږ کې سر ایښی و، ترڅنګ یې وچه ډوډۍ پرته وه، ژړل یې:

ــــ ماته نوی موټر!!...

مور یې غلې وه، سړي بالخت ته ډډه وکړه، بغل ته یې په خیرو ککړه خوله ایښې وه، په تندي یې څو تاره مړه وېښتان پراته ول، لاس یې پرې کش کړ، ګوتې یې لندې شوې...په خېمه کې ګرمه هوا وچلېده، ماشوم ورو ورو ژړل، سړي وویل:

ــــ چوک له مزدورانو ډک و، ټول بېرته ماغوندې خپلو کورو ته لاړل.

ښځې د ماشوم وېښتانو کې ګوتې وهلې، وچې شونډې یې وخوځولې:

ــــ ګاونډیو ام د غرمې دپاره څه رانکړ.

سړی غلی و، ښځې زیاته کړه:

ــــ ویلې، نور تاسو نه پوزې ته راغلي یو.

د ماشوم سترګې پټې شوې، ښه شېبه چپه چوپتیا شوه، د سړي لاس د مخ لور ته پورته شو، مچ بننګ کړ...

ښځې د ماشوم له لاسه لوېدلې وچه ډوډۍ پورته کړه، تر څنګ یې په سپینه ټوټه کې کېښوده، سړي ته یې سترګې واړولې، وچې شونډې یې وخوځېدې:

ــــ ترڅو به ام دا حال یي!؟

سړي اسوېلی کړ:

ــــ تر هغه، چې پاچا معلوم شي!!!...

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چوپتیا

د ښځې په گونځې مخ رڼه اوښکه ورغړېده، غریو ونیوله، له خالي دیگي شاته شوه، دېوال ته یې ملا جوخته کړه، له دریڅې، سپوږمۍ تته رڼا کوله، د دیگي لاندې له مړو سکروټو تاو پورته کېده...

ښځې ژور اسویلی کړ؛د کوټې منځ ته یې وکتل، چوپه چوپتیا وه، په زاړه فرش کوچني ماشومان پراته ول، د خوب پرښتې پرې خورې وې...

پای



# ښکلا

د زړه درزا مې ډېره وه، ودرېدم...ښکته او پورته مې گامونه اخیستل، کله به مې لارې ته سترگې ونیولې، بېرته به مې د سیند د ځپو شور ته مخ واړو، یخه هوا به مې حس کړه...

نرۍ باد لگېده، د ونو څانگې به په یوې او بلې ونښتې، بېرته به لېرې شوې، یخ سیوري ته ولاړ وم، لاندې کوچنۍ تیږې ته مې لاس کړ، مخامخ د ځپو منځ ته مې واره کړه، په دې کې د چا غږ مې واورېد:

ـــ شهابه!؟

ژر مې شاته مخ واړو، په زړه مې نرۍ ځړیکه تېره شوه، مخامخ راته یوه جلۍ ولاړه وه، نرۍ ونه یې په تور حجاب کې نغښتې وه، سپین بخن مخ یې د تور ټیکري له منځه ښکلا کوله، ژر مې خوله وخوځوله:

ـــ سلام ښکلا! سترې مه شې.

ښکلا موسکۍ شوه، د ټیکري پیڅکه یې کش کړه، ځواب یې راکړ:

ـــ سلام! ژوندی اوسې.

غلې شوه، زه هم غلی ولاړ وم، په غوږونو مې د سیند د ځپو شور لگېده، ښکلا ته مې وکتل، هغې سترگې ځمکې ته نیولې وې، بېرته مې سترگې ښکته شوې، خو دا ځل مې د ښکلا غږ بیا واورېد:

ـــ شهابه! دا څه خبره ده چې په ټولگي کې دې راته نشوه کولای او دلته دې راوغوښتلم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه درزا مې زياته شوه، پورته مې وکتل، ښکلا لا سترګې ماته نيولې وې، د ځواب په تمه وه، زړه مې لوی کړ، ژوره ساه مې واخيسته، ومې ويل:

ــــ هغه داسې ده...چې...

ژبه مې بنده شوه، ښکلا دوه سترګې راته نيولې وې، ستونی مې ساف کړ، بيا مې وويل:

ــــ هغه داسې ده... چې د پوهنتون يو سمستر مو پاتې، ما ويل چې له خيره دوه درې مياشتې وروسته فارغېږو، نو...

نور مې ژبه بيا ودرېده، ښکلا يو دم غږ کړ:

ــــ نو... نو څه؟

په ځان پوه نه شوم، چيغه مې کړه:

ــــ زه له تا سره مينه لرم، ته مې خوښېږې!!.

د ښکلا سترګې يو دم رډې ودرېدې، په سپين بخن مخ يې سورخي پيدا شوه، سترګې يې ځمکې ته ونيولې، هېڅ يې له خولې نه وتل...

اوار لرزېدم، ژر مې زياته کړه:

ــــ دا خبره مې نور په خپل زړه کې نشوه ساتلی، که مې اوس درته نه وه کړې؛نو دا به مې په خپل ژوند کې په ځان سخت ظلم و.

ښکلا يوه کلمه هم له خولې نه وېستله، غلې ولاړه وه، ماته دا ځل د څپو شور نه راته، خو يوازې مې د زړه درزا ګړندۍ اورېده، په همدې کې ښکلا څو ګامه شاته لاړه، سترګې يې هماغسې ځمکې ته نيولې وې، مخ يې خپلې لارې ته واړو، روانه شوه، ژر مې پرې غږ کړ:

ــــ ښکلا!!

ښکلا ځای پر ځای ودرېده، خو مخ يې راتاو نه کړ، بيا مې پرې غږ کړ:

ــــ زه دې د ځواب په تمه يم!

خو دا ځل ژر روانه شوه، شېبه وروسته په غټې تيږې ناست وم، د څپو مستۍ ته مې سترګې نيولې وې، ټول بدن مې خولې و، تېزه هوا چلېده، کالي به مې په بدن يخ



ولګېدل...

***

سهار د پوهنتون په لور روان شوم، ټولګي ته په ننوتو مې له ملګرو سره روغبړ وکړ، کېناستم...ومې کتل، ښکلا لا نه وه راغلې، ملګرو مې خبرې کولې، ما د ټولګي ور ته سترګې نيولې وې، خو ډېر ژر مې سترګې واړولې، د ليدلو وس مې نه درلود، يوه ملګري مې وويل:

ــــ دا خو نن ډېره خوشاله ده!.

بېرته مې مخ واړو، ښکلا د انجونو چوکۍ ته تاوه شوه، په څېره يې موسکا خوره وه، له نورو ملګرو سره کېناسته، حيران پاتې شوم، بل ملګري مې راباندې غږ کړ:

ــــ دا ته نو ولې نن غلی يې!؟

ملګرو مې وخندل، بل وويل:

ــــ دا څو ورځې همداسې دی.

د ښکلا موسکا لږ ډاډ راکړ، ژر مې وويل:

ــــ همداسې ښه يم، کنه بيا مو تنګوم.

ټول ملګري مې په خندا شول، په دې کې استاد ټولګي ته راننوت، ټول ودرېدو، شېبه وروسته چوپتيا وه، يوازې د استاد غږ په ټولګي کې انعکاس کاوه، ساعت وروسته استاد له ټولګي ووت، ښکلا خندل، له نورو انجونو سره يې خبرې کولې، ملګرو ته مې له ټولګي د وتلو وويل، ټول روان شولو، په دې کې مې د يو چا غږ واورېد، بېرته مې شاته وکتل، ښکلا وه، وړاندې لاړم، په څېره يې موسکا خوره وه، خو ډېر ژر يې سترګې بېرته لاندې ونيولې، په لاس کې نيولې کتابچه يې را اوږده کړه، شونډې يې وخوځېدې:

ــــ شهابه! په دې کې مې يوه ليکنه کړې، ته پرې خپله کره کتنه وکړه، بيا يې بېرته راکړه.

موسکی شوم، شاوخوا مې وکتل، ټولګيوال موږ ته متوجه ول، ژر مې ځواب ورکړ:

ــــ په دواړو سترګو! ضرور يې ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ملګرو پسې مې ووتم، زړه مې ټوپونه وهل، کتابچه مې کلکه نیولې وه، له ملګرو مې اجازه واخیسته، ویل مې چې کورته ځم، اړین کار راته پېښ شو، اجازه یې راکړه او ځان مې پارک ته ورسو، ارخ ته په یوې چوکۍ کېناستم، کتابچه مې مخ ته ونیوله، ښه شېبه مې بندې کتابچې ته کتل، داسې حس مې کاوه، لکه ښکلا چې راته مخامخ ناسته وي، په دې کې کوچنی غږ شو:

— ماما جانه! بوټان دې رنګ کم؟

ومې کتل، مخ ته مې کوچنی هلک ولاړ و، وړه څېره یې ګردونو وهلې وه، جامې یې ځای ځای په رنګه تارونو پیوندونه درلودل، په وړو لاسونو یې خیرنه خلته نیولې وه، ومې ویل:

— نه روکی! نه یې رنګوم.

هلک روان شو، خو ژر مې پرې غږ کړ، بېرته راتاو شو، له جېبه مې یو لسګون راوویست، ورته مې ونیو، هلک لسګون واخیست، خوشاله شو، خلته یې په ځمکه کېښوده، کېناست، خو ژر مې وویل:

— ځه روکی! لسګون دې ستا وي.

هلک ودرېد، خوشاله ښکارېده، روان شو، بېرته مې کتابچه مخ ته ونیوله، پاڼې مې ورته واړولې، خالي وې، خو په منځنۍ پاڼو کې مې سترګې په څو کرښو ولګېدې، لیکلي یې ول:

— سلام ګران شهابه! ډېره خوشاله یم، ځکه چې د همدې خبرې په تمه وم. شهابه! زه هم له تاسره مینه لرم.

ټول بدن مې له خوشالۍ په لرزې شو، شاوخوا مې وکتل، بېرته مې په کتابچې سترګې ونښلولې، خو دا ځل هک حیران شوم، زړه مې ودرېد، بدن مې سست شو، لیکلي یې ول:

— شهابه! خو زه مې پلار په وړوکوالي کې د ماما د زوی په نامه کړې یم.

کتابچه مې بنده کړه، سترګې مې ښه شېبه پټې کړې، زړه مې ډب ډب کاوه، غلی وم، بېرته مې سړه ساه واخیسته، بیا مې د کتابچې کرښو ته وکتل، نورې کرښې یې



داسې وې:

— زه تانه بغیر ژوند نه کوم، ځان به مړه کړم، خو د بل چا په نوم به ژوند ونه کړم.

په اخره کې یې د موبایل شمېره وه، کتابچه مې بنده کړه، ځان راته وارخطا وایسېد، همدا یوه اخرنۍ کرښه مې په ذهن کې تاوېده:

— ...ځان به مړه کړم...

***

په کټ کې پروت وم، پورته سپوږمۍ ته مې دوه سترګې نیولې وې، موبایل مې سترګو ته ونیو، څو ځله مې شمېره دننه کړه، خو بېرته به مې پاکه کړه، ښه شېبه وروسته مې زړه غټ کړ، موبایل مې غوږ ته ونیو، خو ډېر ژر له مقابل لوري غږ شو:

— سلام!

اواز د ښکلا و، خو بیا مې هم داسې وویل:

— سلام! شهاب یم.

د خندا غږ شو، بېرته یې وویل:

— دومره دې زما مینه کمزورۍ کړه شهابه! ستا اواز خو زما په زړه کې ځای لري.

غلی وم، ځواب مې ور نه کړ، خو ښکلا بیا وویل:

— د زنګ په تمه دې وم، په لیک دې کره کتنه وکړه؟

— هو! خو اغه اخره کرښه مې درته خوښه نشوه.

ځواب مې وانه ورېده، په تمه وم، خو د ښکلا سلګۍ شوې، ژر مې وویل:

— اوهووو... ښکلا!؟ دا څه اورم؟

خو ژر یې ستونی ساف کړ، ځواب یې راکړ:

— خیر...ښینه غواړم، نور به نه ژاړم.

دواړه غلي وو، خو ښکلا بیا وویل:

— پوښتنه دې ونه کړه!؟

— د څه شي؟

— ماما مې له کورنۍ سره خارج کې اوسیږي، ډېره کوچنۍ وم چې تلي، ما یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ځېرې هېرې کړي دي.

ډېر وخت وغږېدو، ډاډينه مې ورکوله، خو ښکلا به کله په سلګو شوه، بيا به يې بېرته ځواب راکړ، ښه شپه وروسته مې ورته ورته ((ښه شپه)) وويل، موبايل مې بند کړ.

***

سهار ټولګي ته لاړم، ملګرو مې بيا راڅخه زما د غليتوب پوښتنه وکړه، خو ويل مې چې هېڅ خبره نه شته، لږ بې خوبه يم.

ښکلا تر اخر ساعته پورې ټولګي ته رانغله، سودا مې شوه، زنګ مې ورته وواهه، خو موبايل يې بند و، تر ماښامه يې کار ونه کړ، له ډوډۍ وروسته مې بيا موبايل راواخيست، دا ځل يې زنګ تېر کړ، په تمه وم، موبايل يې پورته نه کړ، بيا مې کوښښ وکړ، خو ډېر وروسته يې ځواب راکړ، غږ يې ورو و، ويې ويل:

ــ سلام شهابه!

ــ سلام ښکلا! نن ټولګي ته ولې نه وې راغلې، خيريت خو به و؟

ښکلا غلې وه، بيا مې وويل:

ــ په تشويش دې کړم، ولې غلې يې؟

ښکلا غريو ونيوله، ورو يې وويل:

ــ نن مې ماما له خارجه راغی، زوی يې هم ورسره دی.

غلی وم، خو ښکلا ژر وويل:

ــ مور مې راته غږ کړ، موبايل بايد بند کړم.

ــ سمه ده.

خو بيا يې ژر وار ونيو، ويې ويل:

ــ شهابه!

ــ هو، وايه!

ــ په ځان پام کوه!.

موبايل بند شو، هماغسې په کټ کې پرېوتم، پورته سپوږمۍ ته مې وکتل، ځای



ځای به په وربځو کې پټه شوه، بېرته به ترې سپينه رڼا راووته...

اسمان ډېر ښکلی و، رېو ستورو ځلا کوله، يوه ته مې پام شو، په حرکت و، د نورو ستورو منځ کې په ډېرې تېزۍ روان و، خو له يوه سره هم ونه لګېده، تر ډېره مې ورته سترګې نيولې وې، د غره له څوکې واوښت...

***

سهار ناوخته پاڅېدم، پوهنتون د تلو لپاره مې ځان تيار کړ، په موبايل مې سترګې ولګېدې، ښکلا مې په ياد شوه، ژر مې پورته کړ، په توکمه مې ګوته کېښوده، له رڼا سره سم مې په يو پيغام سترګې ولګېدې، د رسېدو وخت يې څو ساعتونه مخکې و، ور ننوتم، د ښکلا و، خو يو دم مې پښې ولړزېدې، زړه مې وارخطا شو، ليکلي يې ول:

ــ شهابه! زه لاړم...ښښنه غواړم، ما هېره کړه!!.

سر راباندې وګرځېد، مخته لاړم، د ګرېوان پاسنۍ تڼۍ مې خوشې کړه، سړه ساه مې واخيسته، بېرته مې موبايل مخ ته ونيو، د ښکلا په شمېرې مې ګوته کېکاږله، غوږ ته مې ونيو، زنګ لاړ، ځنډ يې وکړ، موبايل پورته نه شو، بيا مې هڅه وکړه، زنګ ور تېر شو، دا ځل مې د ژړا له شور سره يو ځای بل ښځينه غږ واورېد:

ــ بلې!؟

له شور سره نور هم وارخطا شوم، ژر مې خبره وکړه:

ــ بلې! زه د ښکلا ټولګيوال يم، خيريت خو به وي؟

ښځه يو دم په کريکو شوه، ځواب يې راکړ:

ــ زويه! ښکلا زهريني ګولۍ خوړلي، اوس يې د ښار روغتون ته يوړه.

په مغزو کې مې کرنګ شو، ښځې بيا وويل:

ــ لور يې راته په لوی لاس مړه کړه.

ژر مې موبايل بند کړ، په منډه له کوره ووتم، موټر ته مې لاس ورکړ او د روغتون په لور مو حرکت وکړ، موبايل مې له جېبه راوويست، د ښکلا اخرني پيغام ته ننوتم، بيا مې همغه کلمات په سترګو ولګېدل، يو دم مې له خولې چيغه ووته:

ــ ولې دې داسې وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډرېور شاته راوکتل، خو ژر يې بېرته مخې ته سترګې واړولې، ما هماغسې د موبايل ښيښې ته کتل، چې موټر ودرېد، سترګې مې پورته کړې، د موټرو ګڼه ګوڼه وه، ټول ولاړ ول، مخه مو بنده وه، ترافيک په خوله کې چورک نيولی و، لاسونه يې يوې او بلې خوا ته خوځول، ژر ښکته شوم، په منډه د موټرونو له منځه ووتم، وړاندې په بل موټر کې کېناستم، خو ډېر ژر د روغتون مخ ته ښکته شوم.

د خلکو ګڼه ګوڼه زياته وه، وړاندې ورغلم، د معلوماتو ورکوونکي راته ځای راوښود، منډه مې کړه، د دهليز بر سرته د بېړنۍ خونې مخ ته په تن ډېل، د لنډې ږيرې سړي ښکته او پورته ګړندي ګامونه اخيستل، بغل ته په لويې چوکۍ بل پوخ ډنګر سړی ناست و، ږيره يې خرېيلې ښکارېده، لاندې ځمکې ته يې کتل، تر څنګ يې يو ځوان ولاړ و، کوبای پتلون يې کړی و، لوڅې متې او په زنه يې موټی ږيره نښتې وه، کله به يې د خونې د ور له پاسه سرې اشارې ته وکتل، کله به يې بېرته په تن ډېل سړي ته کتل، چې په تېزۍ تېزۍ يې ګامونه اخيستل...

همدلته مې دېوال ته تکيه وکړه، د ور له پاسه سرې اشارې ته مې دوه سترګې نيولې وې، په دې کې يې تر خوا شنه اشاره روښانه شوه، ودرېدم، د خونې ور خلاص شو، د سپينو جامو لرونکی سړی ترې راووت، پوزې ته يې شنه ټوټه اچولې وه، درې نارينه ژر ورمخته شول، په تن ډېل، د لنډې ږيرې لرونکي سړي په وارخطايۍ ترې وپوښتل:

— ډاکتر صيب! لور مې...ښکلا لور خوبه مې ښه وي؟

ټول د ځواب په تمه ول، د زړه درزا مې اورېده، ټول وجود مې سست و، ډاکتر مخ ته لاس پورته کړ، شنه ټوټه يې لېرې کړه، د ولاړ ډېل سړي په اوږه يې لاس کېښود، ورو يې وويل:

— بښنه غواړم، موږ پوره کوښښ وکړ، خو ومو نشوه ژغورلای!....

پای



## زه بدلمنه نه يم!

درز سره، ورپه زوره پورې شو...شينکۍ زېړه ګونه پخلنځي ته رانوته، ور ته يې ملاجوخته کړه...کېناسته، هکه حيرانه پاتې وه چې څه وکړي، سترګې يې په منګي ونښتې، زرپورته شوه دمنګي خواته يې منډه کړه، منګی يې په کنډولي راکوږکړ، لاسونه يې لړزېدل...اوبه دکنډولي ترڅوکوواوښتې، پام يې بل چېرته و، زريې منګی سيده کړ، کنډولی يې په دواړولاسونوپورته کړ، دوه درې ګوټه يې ترستوني تېرشول، غاړه يې لنده شوه، کنډولی يې په لاسونوکې ټينګ نه شو، شاته شوه...لاندې يې وکتل، دکنډولي ټوټې پرتې وې، ډېره ناقراره وه، پخلنځي کې څو وارې ښکته پورته لاړه، لاس يې په تندي کېښود، يودم ودرېده...دکشرخان خبره يې ذهن ته راغله چې په بربټويې پټې شونډې وخوځېدې:

— شينکۍ!! ډېره ښکلې ښکارې...

شينکۍ ټکان وخوړ...لږه مخکې ولاړه ، بېرته تاوه شوه، بيايې خپلې زارۍ په يادشوې:

— کشرخان!... دخدای نه وډارشه...نږدې راته راينشې...

له خولې نه يې چغه ووته ، پخلنځي کې يې شاوخواوکتل هېڅوک نه ول، دېوال ته نږدې کېناسته، له سترګوڅخه يې اوښکې روانې شوې، موراوپلاريې په زړه راوورېدل...ځان ورته ډېره بې وسه ښکاره شوه، لږه شېبه غلې وه خوبيايې څه په يادشول:...کشرخان دخپل کاوبای پتلون جېب ته لاس کړ، دسګرټوقوطی يې راوويسته، يويې ترې خولې ته کش کړ...مخ يې راواړو، شينکۍ دخونې په کونج کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته وه، ټيکرى يې له سر نه لوېدلى ؤ، پښې يې ځانته راټولې کړې وې، اواره لرزېده، دکشرخان له خولې تورلوګى ووت ، لږمخته راغى خوله يې وخوځېده:

ــــ مه ډارېږه!... زه درسره واده کوم...خوپام چې اوس مشرخان ته څه ونه وايې.

***

دتوتکيوشورشو، شينکۍ سترګې وازې کړې...په چت کې ورته ځاله ښکاره شوه، دتوتکۍ بچيان وچونګېدل، موريې خوله کې څه ورکړل، بېرته له کړکۍ ووته، شينکۍ غوښتل چې له ځايه پورته شي خوټول بدن يې دردکاوه، په ستونزوپورته شوه، وړاندې لاړه...دمات کنډولي ټوټوته يې لاس وړاندې کړ، چې دمشرخان غږيې ترغوږشو:

ــــ شينکۍ!...وه شينکۍ!!.

شينکۍ زرله پخلنځي ووته:

ــــ دغه ده در غلم.

داوړدې چېلې لاندې مشرخان په کټ کې بالخت ته ډډه کړې ، يوه پښه يې په بله اړولې اوشخه لونګۍ يې ترخوا ايښې وه، دشينکۍ په ليدويې په تندي کې ګونځې پيداشوې، زياته يې کړه:

ــــ وجلۍ!...څنګه دې رنګ الوتى!؟

ــــ هغه ...مااا...ما...

دشينکۍ خولې ته څه رانغله، پدې کې کشرخان له کومې پيداشو، اوپه خبروکې ولوېد:

ــــ هغه داسې ده پلاره! چې... شينکۍ سپي وډاره کړه.

دمشرخان له تندي ګونځې ورکې شوې، په بربتويې ګوتې کش کړې، لستوني يې ترڅنګلوپورته کړل، له سوړاسويلي سره يې خبره له خولې ووته:

ــــ يوخوداجرګونه نه خلاصېږو، زوى مې داڅوورځې کېږي له خارج نه راغلى، ما لاورسره دزړه خواله نه ده کړې.

کشرخان موسک شو، دپلارترڅنګ کېناست، مشرخان په شينکۍ غږکړ:

ــــ شينکۍ! ډېرستړى يم...لږتريخ چاى راته راوړه.



ــــ دستي... مشرخان.

شينکۍ پخلنځي ته روانه شوه، کشرخان ورته سترګولاندې موسک شو...

***

شپې تېرېدې...دخان ښځه اوماشومان دګرمۍ له لاسه کابل ته تښتېدلي ول، راتلوته يې لاوخت ډېرؤ، خوله بلې خواشينکۍ اوس هغه پخوانۍ شينکۍ نه وه، بلاسوچونوپه سراخيستې وه، دکشرخان ورتګ پخلنځي ته زيات شوى ؤ، دشينکۍ رنګ ورځ تربلې خرابېده، کله کله به يې زړه يودم خراب شو، ډېره به وارخطاشوه، خوبيابه يې دکشرخان په خبروځان ته ډاډورکړ:

ــــ شينکۍ!! ته مې ډېره خوښېږې.

يوه ورځ دکلي يوه مشره ښځه خان کره راغله، دبېرته تګ وخت کې شينکۍ ورته دخپل زړه بدوالي خبره وکړه، خوبېرته يې داسې ځواب واورېدچې سترګې يې رډې راوښتې، پخلنځي ته يې منډه کړه، په غوږونوکې يې دښځې خبره کړنګ شوه:

ــــ واه...شينکۍ! ته خو امېدواره يې...

شينکۍ نه پوهېده چې څه وکړي، څوځله يې چړې ته لاس کړچې ځان ووژني، خوبيابه دکشرخان خبروپرېښبوده:

ــــ شينکۍ! مه ډارېږه... زه درسره واده کوم.

شينکۍ ډاډه شوه اوله ځانه سره يې خبرې پيل کړې، لکه بل څوک چې ورته مشوره ورکوي:

ــــ دکشرخان خوښېږم، زه بايدمشرخان له دې خبرې خبرکم.

بيابه له ځان سره موسکه شوه اوشونډې به يې وخوځولې:

ــــ بيابه سره واده وکو.

شپې زړه نازړه دمشرخان خونې ته ننوته، مشرخان له ځانه سره څه شمېرل، څوپاڼې يې مخ ته ايښې وې، دشينکۍ په ليدويې وويل:

ــــ شينکۍ؟... راځه لورې!

زړه يې غټ کړوړاندې لاړه ، مشرخان بېرته مخ دپاڼولورته ښکته کړ، دشينکۍ ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده بنده شوه:

ــــ مشرخان!...

ــــ اورم يې...

دشينکۍ رنګ زېړشو، په لرزېدلي غږيې ژبه جوړه کړه:

ــــ زماپه خېټه...دکشرخان ماشوم دی...امېدواره يم.

مشرخان يودم هک حيران پاتې شو، سرې غټې سترګې يې شينکۍ ته پورته کړې، شينکۍ ځوړندسرولاړه وه، مشرخان له قهره سورشو...وړاندې راغی:

ــــ څه دې وويل!؟

شينکۍ لاندې ځمکې ته سترګې سيخې کړې وې، مشرخان دويم ځل ونه پوښتل، لاس يې پورته شو، له خولې يې چغه ووته:

ــــ شينکۍ!!...

شينکۍ ښې اړخ ته ړنګه پرېوته...په کيڼ غومبوري کې يې دغټوډېلوګوتونښه پاتې وه، پدې کې کشرخان په منډه خونې ته راننوت، مشرخان په ډېرقهرورته دشينکۍ خبره غبرګه کړه، خوځواب ورته په وارخطايۍ ورکړل شو:

ــــ په ماباوروکه پلاره! داجلۍ دروغ وايي، زه څنګه داسې کاروکم.

شينکۍ مخ پورته کړ، سترګې يې له اوښکوډنډې وې ، مخامخ ورته يوه مکاره اودروغجنه څېره ښکاره شوه، مشرخان له ډېرې غوسې څوګامه شاته لاړ ببرته راتاؤشو:

ــــ موراوپلاردې زمونږډېرخذمت کړی، دهغوی له مرګه وروسته مې لکه خپله لورګڼلې، خوتامې اخرپه ځوی داتورولګوه.

کشرخان له ځان سره موسک شو، شينکۍ غريونيولې وه، خوله يې جوړه کړه چې څه ووايي خومشرخان ترې بياوارونيو:

ــــ ته يوه بدلمنه جلۍ يې!!...

دشينکۍ سترګې رډې راووتلې، په ژړغوني غږ يې له خولې خبره ووېسته:

ــــ نه مشرخان!...زه بدلمنه نه يم...

مشرخان بياپرې چغه کړه:



ــــ بس که!!...

دشينکۍ سترګې ورپېدلې...وډاره شوه، ټول بدن يې اوارلرزېده، خودمشرخان غټې سترګې له سرورګونوڅخه ډکې وې، په کرکه يې وويل:

ــــ زه نوره تاخپل کورکې نشم ساتلی...اوځه زماله کوره!..

په همدې کې مشرخان له ډېره قهره مخ شاته واړو...څوګامه وړاندې لاړ، کړکۍ ته ودرېد، سره هواپرې ولګېده...ببرته يې شاته مخ تاؤکړ...په خونه کې يواځې پتلون کړی هلک ولاړؤ، دلوی ورځنځيرشرنګ کړ، لږه شېبه وروسته شينکۍ دلوړکمره په څوکه ولاړه وه، له اوښکوډکې سترګې يې دسپوږمۍ رڼاته ځلېدلې...

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حواله

هلک یو ځل بیا یو یو نوټ سره بېل کړ، خوله یې خوځېده، د هر نوټ په ځنډه کې یو زر (۱۰۰۰) لیکل شوي وو، د اخر نوټ په بېلولو سره موسک شو، د بغل له جېب څخه یې سپین دستمال راوویست، د پیسو بنډل یې پکې تاو کړ، بېرته یې د بغل په جېب کې کېښود، شاته یې مخ واړو، په وروستۍ چوکۍ کې دوه کسان ناست ول، په خپلو کې یې خبرې سره کولې، هلک یو ځل بیا په بغل جېب لاس تېر کړ، ډاډه شو...زر یې په ډرېور غږ کړ:

— استاده! غرمه دې کړه، ځه نو...حرکت وکه.

ډرېور د موټر مخته راتاو شو...مخکۍ دروازه یې نیم کښه کړه، ویې ویل:

— وروره! له هغې خوا ام خالي راغلی یم، فلانکوچ دی...په درې کسانو خو اوس نشم تلی.

هلک بېرته غلی شو، مخکنۍ چوکۍ ته یې وکتل...یو کس ناست و، ورپسې یې خالي چوکۍ شمار کړې، خوله یې وخوځوله:

— اووف...داخو شپږ کسان کم دي.

پدې کې یو بل کس موټر ته پورته شو، شاته چوکۍ ته یې وکتل خو زر د هلک بغل ته کېناست، په لاس کې یې د گنیو پلاستیک و، هلک ته یې وړاندې کړ، خوهلک ورته د نه خوړلو وویل...پلاستیک بېرته لېرې شو.

شېبه وروسته فلانکوچ په یوه تنگه دره کې روان و، سورلۍ په خپلو کې خبرې کولې، هلک له ښیښې بهر کتل...یو لاس یې تر ځنگلې له ښیښې وبستی و، بل یې



په بغل جېب ټینگ نیولی و...

پدې کې یې تر ځنگ خندا شوه، هلک زر لاس له ښیښې لېرې کړ، په خوا کې ناست کس ته یې سترگې واړولې...ناست کس ژول شوی گنی له خولې لاندې د پښو لور ته وغورځوه او په برېتو پټې شونډې یې وخوځولې:

— نور به دې لاس شخ شوی وي!.

هلک حیران شو...ناست کس بیا زیاته کړه:

— څوک یې درنه نه پټوي، لاس دې له جېبه لرې که!.

هلک داځل موسک شو، ویې ویل:

— کله مې دومره پیسې جېب کې ندي ایښې...ځکه.

برېتور سړي د گنیو پلاستیک هلک ته وړاندې کړ، ویې ویل:

— واخله! خوله دې خوږه که.

هلک له پلاستیک څخه دوه درې دانې پورته کړل، برېتور سړي زیاته کړه:

— نو یو دم دې دومره ډېرې پیسې له کومه کړې؟.

د هلک د خولې له کونج څخه اوبو لاره وکړه، زر یې لستوڼی پرې کش کړ، ژوره ساه یې واخیسته، ویې ویل:

— نن مې ورور راته له ایرانه حواله کړې، دا یې شپږم کال دی چې تلی.

هلک غلی شو...له خولې یې ژول شوی گنی لاندې وغورځېد، له بلې دانې څخه یې شاوخوا وتلې بخرکې لېرې کړل، زیاته یې کړه:

— د اوو کلونو خبره درته کوم...ورور ته مې په کلي کې کوژده وکړه، خو وروسته د جلۍ پلار ویل، که د یو ترکتور ماشین پیسې رانکړې، واده نه درکوم.

د هلک په تندي خوله کېناسته...سترگې یې درندې شوې، خو خپلې خبرې یې بیا وغځولې:

— بیا مې ورور د مزدورۍ دپاره ایران ته لاړ...ایله اوس یې د یو ترکتور پیسې حواله کړې.

د هلک سر درد وکړ...لږ غلی شو، خو بیا یې زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــ ورسره وغړېدم...ويل يې...څو ورځې وروسته را...

پدې کې د هلک خوله بنده شوه، سر يې پرې وګرځېد او سترګې يې پټې شوې.

شېبه وروسته هلک د سر درد حس کړ، پدې کې يې ولی وخوځېد...د چا غږ يې واورېد:

ـــ والکه!...پاڅېږه! په موټر کې خوب پوره کی!؟.

هلک سترګې پرانيستې...سر ته يې ډرېور ولاړ و، نېغ کېناست...شاوخوا يې وکتل، په چوکيو کې سورلی نه وه، موټر د کلي د بازار منځ کې ولاړ و.

د هلک سر ېېرته لاندې وځړېد، پښو ته يې ژول شوي ګني پراته ول، زر يې لاس په بغل جېب کې دننه کړ...هک حيران پاتې شو، رنګ يې والوت، يو دم يې له خولې چغه ووته:

ـــ پيسې!...پيسې مې!!!؟.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**